

# د کووېډ-۱۹ وبا په هکله د جنډر پوهاوی | افغانستان

د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر د میاشتې لومړۍ نېټه

## پنځلسمه ګڼه (XV): د انجونو او ښځو پر ښوونه او روزنه د کووېډ-۱۹ وبا اغېز

په افغانستان کې د کووېډ-۱۹ وبا د هغې اغېزې د تشخیص په موخه چې په جنډر پورې اړه لري، د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر، د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (یونیسف) او بشري حقونو د څار اداره په ګډه دغه پنځلسمه ګڼه پوهاوی خپروي. دغه پوهاوی به د کووېډ-۱۹ وبا پر هغه اغېز تمرکز کوي چې د مېرمنو او انجونو پر ښوونه او روزنه یې لري او همدارنګه به د جنډر د تساوي، ښځو بشري حقونو او افغانستان د پرمختګ او سولې د هلو ځلو په برخه کې له ځان سره اوږدمهاله پایلې ولري. د دغه پوهاوي په ترڅ کې څرګندېږي چې روغتیایي بحران ښوونې او روزنې ته د ښځو او انجونو د لاسرسي میزان چې له وړاندې هم تر ډېره بریده محدودو ؤ نور هم ټیټ کړی دی او هم دا چې تر کومه بریده په بالقوه ډول د دې احتمال شته چې د ښځو د حقونو او جنډر په برخه کې د تېرو دوو لسیزو په ترڅ کې د ترلاسه شوې برابرۍ اړوند پرمختګ د پام وړ او اوږدمهاله اغېزو له امله ترخپلې سیورې لاندې راولي.

دغه پوهاوی د ملي او نړیوالو شریکانو لخوا د غور په موخه د سپارښتنو او وړاندیزونو په یوې ټولګې سره پای ته رسیږي.

د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر، یونیسف او بشري حقونو د څار اداره د کووېډ-۱۹ د بحران په ګډون د ښځو او انجونو د حقونو پرمختګ ته ژمن دي. دغه پوهاوی د کووېډ-۱۹ له امله د ښځو او انجونو پر ښوونه او روزنه د جنډر اړوند اغېزو په هکله د پراخ بحث په موخه د اساس په رامنځته کولو سره د دې هدف د پرمختګ لپاره کارول کیږي. همدارنګه په دغه پوهاوي کې د کووېډ-۱۹ پر وړاندې د غبرګون او ژغورنې د هڅو د اهمیت څرنګوالی په ګوته کیږي، ترڅو په دوامدار ډول د انجونو خوندي، هراړخیز او مساوي ښوونې او روزنې ته د لاسرسي د فرصت ترځنګ د هغو ښځو لپاره هم د ښوونې او روزنې دویم فرصت باوري کړي چې مخکې یې خوندي او مساوي ښوونې او روزنې ته لاسرسۍ نه درلود او د لومړیتوب په ګډون په دې برخه کې پانګوونه وکړي. دا ډول ژمنې او پانګوونې ځکه اړینې ګڼل کیږي، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې د جنډر په برخه کې ترلاسه شوی پرمختګ به په افغانستان کې دوام وکړي او همدا چې افغان ښځې او انجونې به د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون او ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځ وړلو د کنوانسیون په ګډون د نړیوالو بشري حقونو تر چتر لاندې د خپل حق په توګه ښوونې او روزنې ته برابر لاسرسۍ ولري.

## د انجونو او ښځو د ښوونې او روزنې شرایط او پر وړاندې یې پراته خنډونه

ښوونه او روزنه د ټولو ماشومانو حق دی او تحصیل یافته وګړي بیا د پر ځان بسیا، سوله ییزې، مساوي، او ځانګړي افغان ټولنې د رامنځته کولو لپاره یو اړین کار دی. د افغانستان ښوونیز نظام د لسیزو جګړو، پراخې بېوزلۍ او بشري ناورین له کبله سخت ځپل شوی دی. اوسمهال کافي بودجه شتون نه لري، همدا ده چې د افغانستان د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۳٪ یې د ښوونې او روزنې لپاره ځانګړې کیږي. د نړیوالو معیارونو سره سم دولت باید لږترلږه د ناخالصو کورنیو تولیداتو څخه تر ۴٪ - ۶٪ پورې پر ښوونه او روزنه مصرف کړي[۱]. د پایېدونکي پرمختګ د څلورم (۴) هدف د پلي کېدا په موخه د اینچیون اعلامیه او چوکاټ تاییدوي چې د «هراړخیز او باکیفیته او مساوي ښوونې او روزنې او ټولو لپاره د ژوند په ټوله موده کې د زده کړې د فرصتونو برابرولو د باوري کولو په منظور»، لږ پرمختللي هېوادونه باید لږترلږه تر ۴٪ - ۶٪ یا له دې هم ډېره بودجه د ښوونې او روزنې لپاره ځانګړې کړي[۲]. په داسې حال کې چې د افغانستان بودجه له دې هم کمه ده او آن د دغې کمې سلنې بودجې په ځانګړې کولو سره د هېواد د ښوونې او روزنې بودجه په دوامدار ډول هر کال د نیمګړتیا او کمبودۍ سره مخامخ وي[۳].

افغانستان په نړۍ کې یو له هغو هېوادونو څخه دی چې ډېرې وګړي یې ځوانان دي، او له دې جملې څخه شاوخوا نیم وګړي یې (۴۸٪) له ۱۵ کلونو څخه کم عمر لري، او ۶۸٪ یې بیا له ۲۵ کلونو څخه کم عمرونه لري[۴]. د ښځو او انجونو ښوونه او روزنه بیا د هېوادونو د پرمختګ لپاره د پام وړ ټولنیزې او اقتصادي ګټې لري. ښوونه او روزنه بیا د یوه هېواد، خلکو او ټولنیز ژوندانه په پرمختګ کې د ښځو د ګډون کچه ټاکونکې ګڼل کیږي. د افغانستان د ښوونې او روزنې ملي ستراتیژیک پلان (۲۰۱۷ – ۲۰۲۱) تاییدوي چې ښوونې او روزنې ته په مساوي ډول د لاسرسي د باوري کولو په موخه د لاسرسي او اغېزمنتیا په برخه کې پانګوونه اړینه ګڼل کیږي. باکیفیته ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په موخه په ځانګړي ډول په افغانستان کې ځکه د اهمیت وړ موضوع ده چې دلته ځوانان، په ځانګړې توګه انجونې باید زده کړې وکړي، ترڅو په هېواد کې د جنډر د نابرابرۍ، ناورین، بېوزلۍ او جګړې د له منځه وړلو په موخه د هلوځلو کولو لپاره ځانونه چمتو کړي، او افغانستان د جنډر د تساوي، سولې او پرمختګ په لور سوق کړي.

له ۲۰۰۱ کال څخه را پدېخوا په ښوونځیو کې د ماشومانو شمېر نږدې نه برابره یانې له ۰.۹ میلیونو څخه (تقریباً په هغې کې هېڅ انجونې شاملې نه وې) تر ۹.۲ میلیونو پورې لوړ شوی دی (چې په دې کې د انجونو شمېر تر ۳۹٪ پورې رسیږي)[۵]. همدارنګه د یادونې وړ ده چې د ښوونځیو شمېر هم له ۳۴۰۰ څخه تر ۱۶۴۰۰ پورې لوړ شوی دی[۶]. خو سره له دې بیا هم په همدې وخت کې ۳.۷ میلیونه هغه افغان ماشومان یا تقریباً د ښوونځي عمر لرونکي نیمایي ماشومان د ښوونې او روزنې په رسمي چوکاټ کې شامل نه دي. باید وویل شي چې له ښونځي بهر د دغو ماشومانو له جملې څخه ۶۰٪ یې انجونې دي[۷]. د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ په میاشت کې د یونیسف د اټکل له مخې په افغانستان کې ۴۰٪ هغه ماشومان چې د عمر له پلوه د ښوونځي لپاره په شرایطو برابر وو ښوونځیو ته نه وو تللي[۸]. همدارنګه د معیوبو ماشومانو په زیاتولو سره دغه شمېر له دې هم لوړېږي چې د اټکل له مخې یې ۸۰٪ هغه معیوبې انجونې جوړوي چې په ښوونځیو کې شاملې شوې نه دي. دا په داسې حال کې ده چې معیوبیت لرونکي ماشومان هم په خپلو ټولنو کې د نورو سره د مساواتو پر بنسټ هراړخیزې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي حق لري[۹].

د یونیسف د ۲۰۱۶ کال د اټکل له مخې ۶۶٪ افغان انجونې د متوسطې دورې په لومړیو کې چې عمرونه یې تر ۱۲ – ۱۵ کلونو پورې رسیږي له ښوونځیو څخه ایستل شوې دي[۱۰]. د هېواد په بېوزله او لرو پرتو سیمو کې بیا په ښوونځیو کې د نوم لیکنې کچه ډېر توپیر لري او تر ۱۴٪ [۱۱] پورې رسیږي او په واقعیت کې تقریباً انجونې د هېواد په هره برخه کې ښوونې او روزنې ته په برابر ډول د لاسرسي څخه محرومې دي. په پایله کې یې، په ځانګړې ډول د ځوانو مېرمنو د سواد کچه ټیټه پاتې کیږي؛ د یادونې وړ ده چې د ۶۶٪ هلکانو

---

[1]United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization (UNESCO) et al. (2015). Education 2030: Framework for Action. art. 105.
[2]Ibid.
[3]ACT Alliance (2020). Afghanistan: More challenges for women and girls due to COVID-19.
[4]Islamic Republic of Afghanistan Central Statistic Organisations (2018). Afghanistan Living Conditions Survey 2016 – 17.
[5]Ministry of Education, Islamic Republic of Afghanistan (2016). National Education Strategic Plan (2017 – 2021).
[6]Ibid.
[7]https://www.unicef.org/afghanistan/education
[8]UNICEF (2016). State of the World's Children 2016.
[9]Human Rights Watch (2020). "Disability Is Not Weakness" - Discrimination and Barriers Facing Women and Girls with Disabilities in Afghanistan.
[10]UNICEF (2016). State of the World's Children 2016.
[11]Ministry of Education, Islamic Republic of Afghanistan (2016). National Education Strategic Plan (2017 – 2021).

په پرتله یوازې ۳۷٪ ځوانې انجونې سواد لري [۱۲]. د ښوونې او روزنې اړوند د جنډر د دغې نیمګړتیا او تشې مېزان په متوسطه او پوهنتون په دوره کې نوره هم لوړیږي، او د ۱۴.۲٪ نارینه وو په پرتله یوازې ۴.۹٪ سلنه ښځې لوړو زده کړو ته لاسرسی لري [۱۳].

د ښوونې او روزنې پر وړاندې، په ځانګړي ډول د انجونو او ښځو د زده کړو په برخه کې د پام وړ ډېر خنډونه پراته دي او په خاصه توګه په کلیوالي او هغو سیمو کې چې د دولت د مخالفینو تر کنټرول او نفوذ لاندې دي. د افغانستان هغه سیمو د ۲۰۱۹ کال د ارزونې له مخې چې رسیدل ورته ستونزمن دي [۱٤]، ښوونې او روزنې ته په ځانګړي ډول د انجونو لاسرسی نسبتاً په هغو ارزول شویو ولسوالیو کې ډېر ټیټ وو چې رسېدل ورته ستونزمن(HTR) ؤ، د دغه راپور له مخې په دغو ولسوالیو او سیمو کې په اوسط ډول ۳۶٪ د ښوونځي عمر لرونکي ماشومان ښوونځیو ته تلل چې له دې جملې څخه ۷۹٪ یې هلکان او ۲۱٪ یې انجونې وې. همدارنګه په دغه راپور کې یادونه شوې ده چې د ښوونې او روزنې امکانات هم تر ډېره بریده په HTR سیمو (هغه سیمې چې رسېدل ورته ستونزمن دي) کې آغېزمن شوي دي، او په ۲۶٪ مشخصو سیمو کې د جګړو له امله د ښوونځیو د تړل کېدو راپور ورکړل شوی دی. په ښوونځیو کې د غېرې حاضرۍ درې مهم ذکر شوي خنډونه عبارت دي له: د ښوونځي لرې واټن (د ۳٪ هلکانو په پرتله د ۲۸٪ انجونو لپاره)؛ په ښوونځي کې د ګواښونو ویره او ډار (د ۱۴٪ هلکانو په پرتله د ۲۹٪ انجونو لپاره)؛ او د سفر پرمهال امنیتي اندېښنې (۲۰٪ هلکانو لپاره او ۱۵٪ انجونو لپاره).

د ښوونځیو، ښوونکیو او زده کوونکیو په ګډون پر ښوونه او روزنه قصدي بریدونه په غېرې متناسب ډول پر انجونو اغېز کوي ځکه چې هم ډېری وختونه د انجونو ښوونه او روزنه د دا ډول بریدونو هدف ګرځي او هم مېندې او پلرونه په افغانستان کې د خپلو ماشومانو د خوندیتوب په برخه کې د اندېښنې له امله له هلکانو مخکې انجونې له ښوونځیو وباسي. له بریدونو څخه د ښوونې او روزنې د ساتنې نړیوال ایتلاف (GCPEA) د ۲۰۱۷- ۲۰۱۹ کلونو په ارزونه کې راپور ورکړی ؤ چې په دغه موده کې پر پوهنه یا ښوونه او روزنه بریدونه ډېر او ګړندي شوي دي [۱۵]. له بریدونو څخه د ښوونې او روزنې د ساتنې نړیوال ایتلاف (GCPEA) په دغه موده کې پر ښوونځیو له ۳۰۰ ډېرو هغو بریدونو راپورونه راټول کړي وو چې په ترڅ کې یې لږترلږه ۴۱۰ زده کوونکي، ښوونکي یا هم د پوهنې کارکوونکي ټپیان یا هم وژل شوي وو [۱٦]. همدارنګه ملګرو ملتونو هم په ۲۰۱۸ کال کې پر ښوونځیو او ښوونځیو پر کارکوونکو ۱۹۲ بریدونه تایید کړي دي چې په ۲۰۱۷ کال کې د ۶۸ دا ډول بریدونو په پرتله درې برابره زیاتوالی شیي؛ له دې جملې څخه یې ۱۲۳ بریدونه طالبانو او پاتې نور ۴۲ یې بیا داعش یا د اسلامي دولت ډلې ته منسوب شوي وو [۱۷]. همدارنګه د زده کوونکو او پوهنې د پرسونلو پر وړاندې ګواښونه او بریدونه، په ځانګړي ډول د هېواد په هغو سیمو کې ډېر شوي دي چې د دولت د مخالفینو لخوا اداره کیږي [۱۸]. په ډېرو مواردو کې پر پوهنه/ښوونه او روزنه د بریدونو په ترڅ کې د انجونو د ښوونځیو ترځنګ ښځینه زده کوونکې او ښوونکې په نښه شوې دي چې د انجونو د ښوونې او روزنې پر وړاندې د دوامدار مقاومت څرګندونه کوي او له د دغو بریدونو په پایله کې له ۱۰۰۰ ډېر ښوونځي تړل شوي او نیم میلیون ماشومان له زده کړو له حق څخه بې برخې شوي دي [۱۹]. په ۲۰۱۹ کال کې د ۷۲۲ په شاوخوا کې ښوونځي د ناامنیو له امله تړل شوي وو چې تر ۳۲۸۰۹۴ پورې ماشومانو پر ښوونیز بهیر یې منفي اغېز کړی دی [۲۰]. دغو بریدونو د کوېډ-۱۹ وبا په جریان کې هم دوام درلود: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت (یوناما) د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د ۲۰۲۰ کال د اپریل له لومړۍ نېټې څخه د جون میاشتې تر ۳۰مې نېټې پورې د ښووځیو پر وړاندې د بریدونو په هکله په خپل وروستي راپور کې د نهو (۹) مواردو په اړه خبر ورکړی دی [۲۱]. سربېره پر دې، که څه هم چې په قانوني ډول په ښوونځیو کې فزیکي مجازات منع شوي دي، خو په لرو پرتو سیمو کې په ځانګړي ډول د زده کوونکو پر وړاندې لا هم دا شان مجازات د انضباطي وسیلې په توګه کارول کیږي چې دا په خپل وار سره د زده کړې پر وړتیا منفي اغېزې لري او په ښوونځي کې د زده کوونکو د

[12]Human Rights Watch (2017). "I Won't Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick" - Girls' Access to Education in Afghanistan.
[13]http://uis.unesco.org/en/country/af
[14]United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs and REACH (2018), Hard to Reach Assessment Afghanistan.
[15]Global Coalition to Protect Education from Attack (2020). Education Under Attack 2020 - A Global Study of Attacks on Schools, Universities, their Students and Staff, 2017-2019.
[16]Ibid, p. 99.
[17]UN General Assembly and Security Council, "Children and Armed Conflict: Report of the Secretary General," S/2019/509, June 20, 2019, para. 23; UN General Assembly and Security Council, "Children and Armed Conflict: Report of the Secretary General," A/72/865–S/2018/465, May 16, 2018, para. 26.
[18]Global Coalition to Protect Education from Attack (2020). Education Under Attack 2020 - A Global Study of Attacks on Schools, Universities, their Students and Staff, 2017-2019, p. 99
[19]UNICEF (2019). Afghanistan sees three-fold increase in attacks on schools in one year – UNICEF.
[20]UNOCHA (2019). Humanitarian Response Plan Afghanistan – 2018 – 2021.
[21]UN General Assembly and Security Council (2020). The situation in Afghanistan and its implications for international peace and security - Report of the Secretary-General. A/74/993–S/2020/809.

منظمې حاضرۍ د مخنیوي سبب کیږي [۲۲].

سره له دې چې دولت په لومړنیو او منځنیو ښوونځیو کې له زده کوونکو فیس نه اخلي، خو بیا هم په افغانستان کې ښوونځي وړیا نه دي. کورنۍ په دولتي ښوونځیو کې له دولت څخه تمه لري چې د قلمونو، پنسلونو، کتابچو، یونیفورمونو او ښوونځي د بکسو په ګډون د اړتیا وړ امکانات د زده کوونکو په واک کې ورکړي. همدارنګه ډېرې ماشومان باید لږترلږه د یو شمېر درسي کتابونو د ترلاسه کولو په موخه پیسې ورکوي. دولت د درسي کتابونو د تهیه کولو دنده لري، خو ډېرې وختونه کتابونه پر وخت نه رسیږي یا هم نیمګړي وي، چې علت یې هم ممکن په ځینو مواردو کې غلا او درغلي وي. په دغو مواردو کې ماشومان باید د خپلو زده کړو د دوام په موخه کتابونه له کتابتون څخه وپیري [۲۳]. دا ډول غیرې مستقیم لګښتونه د دې لپاره کافي دي چې د یو شمېر بېوزلو کورنیو ماشومان په خاصه توګه انجونې له ښوونځي څخه لرې پاتې شي، ځکه چې هغه کورنۍ چې ښوونځیو ته یوازې د یو شمېر ماشومانو د لېږلو توان لري، دوی بیا تر ډېره هلکانو ته ترجیح ورکوي [۲۴] .

بېوزلي هغه پدیده ده چې ډېرې ماشومان مخکې له دې چې ښوونځي ته د تلو عمر ته رسیږي د پیسو په بدل کې یا هم د غیرې رسمي کار په لور سوق کوي. لږترلږه څلورمه برخه افغان ماشومان چې عمرونه یې د ۵ او ۱۴ کلونو ترمنځ دي د معاش په مقابل کې کار کوي یا هم د خپلو کورنیو سره مرسته کوي، له دې جملې څخه یې ۲۷٪ هغه ماشومان تشکیلوي چې د ۵ نه بیا تر ۱۱ کلونو پوري عمر لري [۲۵]. انجونې بیا په زیات احتمال سره د غالۍ اوبدلو او خیاطۍ په برخه کې کار کوي، خو د پام وړ شمېر ماشومان بیا د واټونو پر سر په کارونو بوخت دي چې پکې د سړک پر سر ګدایي یا هم د کوچنیو شیانو پلورل شامليږي. ډېرې نور یې بیا د خپلو کورنیو سره کورني کارونه ترسره کوي. د انجونو په ګډون ډېرې ماشومان په داسې دندو باندې ګومارل کیږي چې د دوی د ناروغۍ، ټپي کېدو، کار په پایله کې د معیوبیت یا هم آن د خطرناکو کاري شرایطو او ضعیفو روغتیایي او خوندیتوب د معیارونو له امله د دوی د مرګ سبب کیږي. په عمومي ډول ماشومان په افغانستان کې د ډېر لږې اجورې یا هم ځینې وختونه له اجورې پرته د اوږدو ساعتونو لپاره کار کوي. کار ماشومان دېته اړباسي چې د ښوونې او روزنې ترڅنګ درانه کارونه هم په غاړه واخلي او یا هم دوی د ښوونځي پرېښودو ته مجبوروي. د یادونې وړ ده چې یوازې د افغانستان نیمایي کارګر ماشومان ښوونځیو ته ځي [۲۶].

پر دې سربېره، ضعیف، په نشت حساب او د نه لاسرسي وړ زېربناوې هم یوه له بېړنیو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي. نږدې نیمایي ښوونځي تعمیر یا د اړتیا وړ نورې آسانتیاوې نه لري[۲۷] . ځینې وختونه معلولې انجونې تشنابونو ته د رسېدو په موخه د ویلچیر په څېر زېربناوو د نشتوالي له امله ښوونځي ته د داخلېدو یا حاضرېدو توان نه لري. د پوهنې وزارت مطابق په ۲۰۱۶ کال کې ۴۰٪ ښوونځیو د انګړ دېوالونه نه درلودل، دا هغه نیمګړتیا ده چې ډېرې وختونه د انجونو لپاره د جنډر د جلاوالي، عزت او امنیت د اندېښنو له کبله د انجونو په کورنیو کې ښوونځیو ته د هغوی د لېږلو څخه په انکار کولو کې د پام وړ رول لوبوي . همدارنګه ډېر ښوونځي رواني اوبه او هم تشنابونه نه لري. هغه انجونې چې د میاشتنی ناروغۍ دوره یې پیل شوې وي، عملاً د تشناب د ضعیفو امکاناتو له امله آغېزمنې کیږي. د جنډر له پلوه په روانو اوبو سمبال جلا تشنابونو د نشتوالي په صورت کې په ښوونځیو کې انجونې د میاشتنې ناروغۍ د حفظ الصحې د مدیریت په برخه کې د ستونزو سره مخامخ کیږي او ممکن په دغه موده کې په کور کې پاتې شي چې دا په خپل وار سره د دوی پر حاضرۍ د اغېز ترڅنګ د دوی اکاډمیکه لاسته راوړنه هم تر خپلې سیورې لاندې راولي او د دې چانس زیاتوي چې په بشپړ ډول له ښوونځي څخه حذف شي.

د انجونو د ښوونې او روزنې پر وړاندې د ښځینه ښوونکیو نشتوالی یو بل خنډ دی ځکه چې ډېرې میندې او پلرونه یوازې په هغه صورت کې د راحتۍ احساس کوي چې لوڼو ته یې د ښځو لخوا درس ورکړل شي. باید وویل شي چې یوازې ۳۳٪ ښځینه ښوونکې دي او دا بیا په پراخه کچه د یوه ولایت په نسبت په بل ولایت کې توپیر لري چې د ۱.۸٪ څخه پیل او په یو شمېر نورو ولایتونو کې بیا دا سلنه آن تر ۷۴٪ پورې رسیږي [۲۹]. سربېره پر دې، په افغانستان کې د انجونو ښوونځي یوازې ۱۶٪ دي چې ډېرې یې بیا د حفظ الصحې د مناسبو امکاناتو د نه لرلو له امله په ښوونځیو کې د حاضرۍ د مخنیوي سبب کیږي [۳۰] . پوهنتونونه هم د اوبو او حفظ

[22]What Works to Prevent Violence (2017). Despite a new law which bans it, corporal punishment is rife in schools throughout Afghanistan.
[23]Human Rights Watch (2017). "I Won't Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick" - Girls' Access to Education in Afghanistan.
[24]Ibid.
[25]Central Statistics Organisation (CSO) and UNICEF (2012). Afghanistan Multiple Indicator Cluster Survey 2010-2011, p. 125.
[26]Ibid, p. vi.
[27]Central Asia Institute (2018). Gender Equality in Afghan Education: Building a new start for a nation in turmoil.
[28]Ministry of Education, "Education in Afghanistan: At a Glance, From 2001 to 2016 and beyond," undated, provided to Human Rights Watch in April 2017 by Deputy Minister of General Education Dr. Ibrahim Shinwari, on file with Human Rights Watch.
[29]Ministry of Education, Islamic Republic of Afghanistan (2016). National Education Strategic Plan (2017 – 2021).
[30]https://www.unicef.org/afghanistan/education

الصحي د آسانتیاوو او پوهنتون د خوندي چاپېریال په ګډون د ښځینه محصلینو لپاره خوندي ټرانسپورټ او نورې آسانتیاوې نه لري.

معلولیت لرونکي ماشومان ډېرې وختونه د استوګنې معقولو امکاناتو یا هم خاصې همکارۍ ته لاسرسی نه لري، ځکه چې په دې برخه کې هېڅ داسې سیستم نشته چې د معلولیت لرونکو ماشومانو ځانګړې اړتیاوې تشخیص، ارزیابي او پوره کړي او دا کار کېدای شي د ښوونې او روزنې له سیستم څخه دوی بې برخې کړي. د ځانګړې ښوونې او روزنې د میتوډونو په برخه کې د ښوونکي لپاره د روزنیز پروګرام نشتوالی په دې برخه کې یو بل اضافي خنډ دی[۳۱]. د معلولیت لرونکو انجونو او ښځو لپاره له کورونو تر ښوونځیو پورې واټن، د خاص او لاسرسي وړ ټرانسپورټ نشتوالی، او د هغه ماشوم سره تر ښوونځي پورې د رسولو په موخه د مرستندویانو یا کورنۍ د یوه غړي نشتوالی بیا یو له مهمو خنډونو څخه ګڼل کیږي[۳۲].

ټولنیز او کلتوري نورمونه او د جنډر توقعات بیا هم په خپل وار سره ډېرۍ وختونه د انجونو ښوونې او روزنې ته په ارزښت قایل نه دي. همدارنګه د ماشومانو واده کول هم د پوهنې د بهیر څخه د انجونو د ایستلو لامل او هم پایله ده؛ د یادونې وړ ده چې ۲۸٪ ښځې ۱۸ کلنۍ ته تر رسېدو مخکې او ۴٪ یې بیا له ۱۵ کلنۍ څخه مخکې واده کوي[۳۳]. د واده د عمر په هکله د افغانستان قانون په ۱۵ کلنۍ کې د واده کولو په اجازې ورکولو سره د نړیوالو بشري حقونو له قانون څخه په سرغړونې سره یې د انجونو لپاره د هلکانو په نسبت د واده کولو حداقل عمر ټاکلی دی[۳۴]. د مدني قانون مطابق د هلکانو لپاره د واده کولو حداقل عمر ۱۸ کاله او د انجونو لپاره بیا د واده کولو حداقل ۱۶ کاله ټاکل شوی دی (اویایمه ماده). که چېرې انجلۍ ۱۵ کاله عمر ولري، هغې ته د هغې د پلار یا د محکمې په اجازه د واده کولو اجازه ورکول کیږي، خو په داسې حال کې چې له ۱۵ کلونو څخه د کم عمره انجونو وادول ته بیا په هېڅ ډول شرایطو کې اجازه نه ورکول کیږي (یواویایمه ماده). خو بیا هم، په نړیوال قانون کې په دې اړه عمومي اجماع شتون لري چې له استثنایي حالاتو پرته د واده کولو لپاره حداقل عمر باید ۱۸ کاله وي.[۳۵] هغه کمېټې چې د ماشومانو د حقونو کنوانسیون او ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو په هکله کنوانسیون تفسیروي د دې سپارښتنه کړې ده چې میندو او پلرونو د رضایت په پام کې نیولو څخه پرته باید د دواړو هلکانو او انجونو لپاره د واده کولو حداقل عمر ۱۸ کاله وي . د یادونې وړ ده چې د ماشومانو د واده کولو د پای ته رسولو په موخه د ۲۰۱۷ کال کاري پلان په پراخه کچه نه دی عملي شوی[۳۶].

د ملګرو ملتونو عمومي منشي لخوا د کوېډ-۱۹ وبا سره د مبارزې په موخه په نړیواله کچه د بشري اوربند غوښتنه وشوه چې په دغې غوښتنې کې افغانستان هم شاملیږي[۳۷]. خو بیا هم، د دې سربېره او کوېډ-۱۹ وبا د خپرېدو سره سره جګړې دوام وکړ د هېواد یو شمېر نورو سیمو ته هم جګړه پراخه شوه. د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له ۱ نیټې څخه د ۲۰۲۰ کال د اګست ۲۶ نیټې پورې ۱۵۱۱۹۶ خلکو خپل کورونه د جګړې له امله پریښودل[۳۸]. دغو نویو بېځایه شویو خلکو ته د محدودو بشري مرستو د لاسرسي په درلودو سره د بشري مرستو د فعالیتونو لپاره دا یوه لویه ننګونه وه چې د دوی اړتیاوې او لومړیتوبونه تشخیص او په ګوته کړي[۳۹]. خو سره له دې هم، د ناروې د کډوالو د شورا لخوا د بحران د تصدیق څخه مخکې یوه څېړنه ترسره شوه چې له مخې یې د نورو ښاري وګړیو په پرتله ښوونې او روزنې ته د داخلي بېځایه شویو وګړو (IDPs) لاسرسی ډېر محدود وو[۴۰]. د داخلي بېځایه شویو وګړو (IDPs) لپاره د ښوونې او روزنې بېرته احیاء کول یوه بېړنۍ اړتیا ده.

د داخلي بېځایه شویو مېرمنو او انجونو لخوا ښوونې او روزنې ته لاسرسی یو له ډېرو ننګوونکو کارونو څخه ګڼل کیږي. د داخلي بېځایه شویو وګړو (IDPs) د ماشومانو او په مشخص ډول د انجونو لخوا هراړخیزې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي د باوري کولو په موخه د مشخصو تدابیرو ترلاس لاندې نیول ډېر مهم دي. آن د کوېډ-۱۹ وبا له ناورین څخه مخکې شواهدو څخه څرګندیږي چې د هغو ستونزو سربېره چې نورې افغان انجونې ورسره مخامخ دي، ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په برخه کې بېځایه شوې مېرمنې او انجونې د پام وړ خنډونو سره مخامخ وې. د داخلي بېځایه شویو وګړو (IDPs) ماشومان، په ځانګړي ډول انجونې د ننګ/پېغور، عمر له پلوه د هغو محدودیتونو له کبله چې له مخې یې ماشومان په ښوونځي کې نوم لیکنه کولای شي او یا د دې شرط له امله

[۳۱]Ibid.
[۳۲]Human Rights Watch (2020). "Disability Is Not Weakness" - Discrimination and Barriers Facing Women and Girls with Disabilities in Afghanistan.
[۳۳]Afghanistan Living Conditions Survey 2016-17 in UNICEF Child Marriage database: https://data.unicef.org/topic/child-protection/child-marriage/
[۳۴]Human Rights Watch (2012). "I Had To Run Away" The Imprisonment of Women and Girls for "Moral Crimes" in Afghanistan, p. 31.
[۳۵]CEDAW Committee, General Recommendation No. 21, Equality in Marriage and Family Relations, (Thirteenth Session, 1994), para. 36; UN Committee on the Rights of the Child, General Comment No. 4, Adolescent Health and Development in the Context of the Convention on the Rights of the Child, (Thirty-third session, 2003), para. 20.
[۳۶]Human Rights Watch (2017). Will Afghanistan Follow Through on Promise to End Child Marriage?
[۳۷]UN News (2020). COVID-19: UN chief calls for global ceasefire to focus on 'the true fight [2]of our lives'
[۳۸]OCHA (2020). Afghanistan: Conflict Induced Displacements (as of 06 September 2020).
[۳۹]Asia Displacement Solutions Platform (2019). A long way home: obstacles and opportunities for IDP return in Afghanistan.
[۴۰]Norwegian Refugee Council (2015). Listening to Women and Girls Displaced to Urban Afghanistan.

چې زیات عمر لرونکي ماشومان باید په لوړو ټولګیو کې زده کړې وکړي، آن که هغوی مخکې زده کړې هم نه وي کړې او همدارنګه د هویت د تشخیص او اطلاع نامو (بل ښوونځي ته د تبدیلۍ د سند) د نشتوالي په ګډون په ښوونیز بهیر کې د اختلالاتو او نویو محلونو کې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په برخه کې د پرتو خنډونو له امله په ښوونځي کې د وروسته پاتې کېدو د خطر سره مخامخ دي[٤١].

د کوېډ-۱۹ وبا د خپرېدو څخه مخکې هم په ډېرو ولایتونو کې په ښوونځیو کې د انجونو شمېر لا له وړاندې کم وو. د بشر حقونو د څار اداري د تحلیل او تجزیې مطابق د ۲۰۱۵-۲۰۱۶ کلونو په پرتله د ۲۰۱۶-۱۷ کلونو لپاره د افغان دولت له ارقامو څرګندیږي چې په دغه موده کې د هېواد له ۳۴ څخه په ۳۲ ولایتونو کې د انجونو شمېر د ۲.۴ ملیونو ټولټال انجونو له جملې څخه په لومړنیو ښوونځیو کې د تېر کال په نسبت تر ۲۰۶۰۰۰ انجونو پورې کم شوی دی[٤٢]. د یادونې وړ ده چې د هلکانو په شمېر کې هم کموالی راغلی دی، خو د کموالي دا شمېر په ۲۳ ولایتونو کې تر ۱۲۴۰۰۰ تنو پورې رسیږي[٤٣]. د ۲۰۱۷- ۲۰۱۸ کلونو د ارقامو په پرتله د ۲۰۱۸- ۲۰۱۹ کلونو د ارقامو په ارزونه کې موندل شوې چې په دغه موده کې په ۱۳ ولایتونو کې د انجونو په شمېر کې کموالی رامنځته شوی دی، په داسې حال کې چې د هلکانو شمېر بیا په ۱۲ ولایتونو کې راټیټ شوی دی[٤٤]. همدارنګه کېدای شي چې د کوېډ-۱۹ وبا هم د انجونو د ښوونې او روزنې پر وړاندې دا ډول خنډونه په زیاتوالي کې مرسته کړې وي.

په ښوونځیو کې د زیات شمېر ماشومانو، په ځانګړي ډول د انجونو د شاملولو هڅې د مرستندویانو یو له تر ټولو مهمو نوښتونو څخه ګڼل کیږي چې له مخې یې د ټولنې پر بنسټ د زده کړو پروګرامونه (CBEs) رامنځته کړي وو چې د دولت تر څارنې لاندې د غیرې دولتي سازمانونو (NGOs) لخوا تمویل او پرمخ بېول کېدل. دغه پروګرامونه ډېری وختونه د ښوونځیو پر ځای د «ټولګیو» په نوم سره یادېدل ځکه چې ډېری دا پروګرامونه په کورونو کې ترلاس لاندې نیول کیږي او هر ټولګی له ۲۵ څخه بیا تر ۳۰ پورې زده کوونکي/زده کوونکې لري. نوموړي پروګرامونه په هغو ټولنو کې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په موخه طرحه شوي دي چې هلته ښوونځي شتون نه لري. همدارنګه دوی د هغو ماشومانو سره د مرستې او همکارۍ پلان درلود چې له زده کړو وروسته پاتې شوي وو، او په دغو پروګرامونو کې یې هغه ماشومان هم منل چې په دولتي ښوونځیو کې یې د شاملولو لپاره عمرونه ډېر زیات وو. د ټولنې پر بنسټ د زده کړو ډېر پروګرامونه (CBEs) د چټکو زده کړو پروګرام وړاندې کوي چې په یوه کال کې د دوو کلونو د زده کړو معادل وي، د دې پروګرام هدف د ماشومانو د پرمختګ سره مرسته کول دي، ترڅو وکولای شي چې د ټولنې پر بنسټ د زده کړو (CBEs) له بشپړولو وروسته په دولتي ښوونځي کې شامل شي[٤٥].

## پر مېرمنو او انجونو باندې د کوېډ-۱۹ وبا له امله د ښوونځیو د تړلو له کبله اغېزې

د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۱۴مه نېټه د کوېډ-۱۹ وبا د خپرېدو څخه د مخنیوي د اقدام په ترڅ کې په افغانستان کې ټول ښوونځي او تعلیمي اداري تړل شوې وې. په افغانستان کې د ۳.۷ میلیونو هغو ماشومانو سربېره چې په ښوونځیو کې نه دي شامل شوي، د دولتي ښوونځیو له ۹.۵ میلیونو څخه ډېر ماشومان او ۵۰۰۰۰۰ هغه ماشومان چې په ټولنیزو ټولګیو (CBEs) کې یې نوم‌لیکنه کړې وه، تقریباً د اوو میاشتو لپاره له ښوونځیو لرې پاتې شول. د ۲۰۲۰ کال د اګست پر ۲۲مه نېټه په ټول هېواد کې له ۷- ۱۲ ټولګیو پورې دولتي ښوونځي پرانیستل شول، او خصوصي ښوونځیو ته له ۱- ۱۲ ټولګیو پورې د پرانیستلو اجازه ورکړل شوه. واقعیت خو دا دی چې د خصوصي ښوونځیو زده کوونکیو د دولتي ښوونځیو د زده کوونکیو په نسبت لا له وړاندې ښوونې او روزنې ته پراخ لاسرسی درلود چې دا د هغې پراخې نابرابرۍ څرګندونه کوي چې ممکن د خپرېدونکې وبا له کبله له ځان سره ډېرې منفي پایلې ولري.

په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ وبا د روغتیایي ناورین له کبله د ښوونځیو تړل او ښوونیز بهیر اختلال لا له وړاندې ډېرو ماشومانو ته زیان رسولی دی چې په دې سره ښوونې او روزنې ته هغه لاسرسی چې نیمګړتیاوې یې درلودې نور هم ضعیفوي. د خپرېدونکې وبا سره هم‌مهاله د ناوړه او غیرې پیشبیني شوي امنیتي وضعیت ترڅنګ دوامدارې وسلوالې جګړې او هغو اندېښنو چې له وړاندې د مرستندویانو د تمویل کچه یې راټیټه کړې ده، ښایي د کوېډ-۱۹ وبا په ترڅ کې دغه مرستې نورې هم را کمې کړای شي. روغتیایي ناورین

[٤١] Human Rights Watch (2020). "Disability Is Not Weakness" - Discrimination and Barriers Facing Women and Girls with Disabilities in Afghanistan.
[٤٢] Lacuna Magazine (2017). Why are we giving up on girls' education in Afghanistan?
[٤٣] Ibid.
[٤٤] Comparison of Afghanistan government statistical yearbooks for 2017-2018 and 2018-2019, on file with Human Rights Watch.
[٤٥] Human Rights Watch (2017). "I Won't Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick" - Girls' Access to Education in Afghanistan.

همدارنګه د موجودو نیمګړتیاوو او نابرابریو د ډېرېدو لامل کېږي او ښوونې او روزنې ته د هغو ماشومانو لاسرسی نور هم محدودوي چې مخکې له پامه غورځول شوي دي.

د هغو ماشومانو لپاره به د زده کړو ترلاسه کولو احتمال ډېر کم وي چې له وړاندې یې زده کړې نه وي کړې او ډېری هغه ماشومان چې ښوونځي یې تړل شوي وو، شایي د دې توان ونه لري چې له ستونزې پرته بېرته خپلې زده کړې پیل کړي. شایي دغه بحران د پام وړ موجودې محدودې سرچینې هم د ښوونیز سیستم څخه په داسې ډول له منځه یوسي چې اوږدمهاله پایلې به له ځان سره ولري او د ټولو ماشومانو لپاره د اجباري او لاسرسي وړ عمومي ښوونې او روزنې په لور د پرمختګ پر وړاندې به د خنډ سبب شي. ښوونې او روزنې ته د لاسرسي په هکله د کوېډ-۱۹ وبا اغېز نه یوازې تر ۲۰۳۰ کال پورې د نړۍ په کچه د باکیفیته ښوونې او روزنې د پایېدونکي پرمختیایي هدف (SDG٤) پر وړاندې، بلکې د ټولو نورو بشري حقونو د تحقق ترځنګ به په افغانستان کې د SDGs ۱۷ پر وړاندې یو له مهمو ګواښونو څخه ګڼل کېږي.

د یادونې وړ ده چې دغه زیانونه به انجونې، په ځانګړې توګه هغه انجونې چې د بېلابېلو دلایلو پر اساس له پامه غورځول شوي وي ډېرې اغېزمنې کړي چې په دې کې معلولیت لرونکې، داخلي بېځایه شوي وګړي یا بېرته رستنېدونکي کډوال، او یا هم د درې پر څلورو برخه هغه وګړي شاملېږي چې په کلیوالو سیمو کې ژوند کوي[٤٦]. دې ته په کتو سره د ښوونې او روزنې په برخه کې دوامداره پانګوونه مهمه ده، او باید د ټولو ماشومانو لپاره هراړخیزې ښوونې او روزنې ته لاسرسی باوري کړل شي، ځکه چې دا کار به په لنډمهال او اوږدمهاله موده کې د پرمختګ او سولې د هڅو سره مرسته وکړي. د کوېډ-۱۹ وبا به په افغانستان کې په دولتي برخه کې د پرمختګ له پلوه د برابرو فرصتونو په هکله د ښځو د حقونو پر تحقق، جنډر پر برابروالي، پرمختګ او عمومي ډول په هېواد کې پر سوله اوږدمهاله اغېز ولري. د یادونې وړ ده چې د زده کړې په برخه کې د انجونو د شمېر د کموالي د مخنیوي ترځنګ د کوېډ-۱۹ وبا د بحران له امله په لومړنیو، منځنیو او لوړو زده کړو کې د ښځو او انجونو د ګډون د نوي کمېدونکي شمېر مخه هم باید ونیول شي.

د ښوونځیو او ټولنې پر بنسټ د زده کړو پروګرامونو (CBEs) په بېرته پرانیستلو سره به په افغانستان کې د ښوونې او روزنې ضعیف سیستم له درېو نورو ننګوونو سره مخامخ وي: په ښوونځیو کې په ځانګړي ډول د ماشومانو بیاځلي شاملول؛ د زده کړې د تېر شوي وخت مدیریت؛ او د ژمي په ساړه موسم کې د کوېډ-۱۹ وبا په احتمالي ډول بیاځلي فعالېدل. په سړو سیمو ولایتونو کې وضعیت چې معمولاً د نوامبر په وروستیو کې بیا د مارچ تر پایه پورې ښوونځي رخصتېږي د ځان سره خپلې ننګوونې لري.

## پر هغو ښځو او انجونو یې آغېز چې تر ټولو ډېرې له پامه غورځول شوې دي

د کوېډ-۱۹ وبا تر ډېره بریده هغه ماشومان او کورنۍ زیانمنوي چې د ستونزو او بحران پر وړاندې یې مقاومت ضعیف وي. د ښوونې او روزنې په بهیر کې اختلال شایي تر ټولو ډېر پر هغو ماشومانو منفي اغېز ولري چې تر ټولو ډېر له پامه غورځول شوي یا هم د خطر سره مخامخ وي، ځکه چې یاد بحران په ښوونیز بهیر کې موجودې ستونزې نورې هم پراخوي او د دوی د زده کړو د دوام فرصتونه نور هم راټیټوي.

د هغو کسانو ترمنځ چې له نورو ډېر اغېزمن شوي وي شایي د هغو کورنیو مېرمنې او انجونې وي چې په بېوزلۍ، لرو پرتو، کلیو او بانډو او یا هم له جګړې څخه په اغېزمنو شویو سیمو کې ژوند کوي، او یا هم داخلي بېځایه شوې او بېرته راستنېدونکې مېرمنې او انجونې، او معلولیت لرونکې مېرمنې او انجونې وي. د دوی له جملې څخه یې ډېرې ښځې او انجونې په کورونو کې د زده کړو د دوام لپاره محدود فرصتونه لري، نو له همدې امله د ښوونځیو تړل کېدل شایي د دوی اوږدمهاله سالمه وده په ځانګړي ډول اغېزمنه کړي. د کوېډ-۱۹ وبا څخه وړاندې ۶۵٪ بېځایه شوې انجونې په هغو ستونزمنو سیمو کې اوسېدلې چې هلته دوی په ښوونځیو کې نوملیکنه نه وه کړې. په ارزول شویو ستونزمنو سیمو یا ولسوالیو کې ۳۶٪ کورنیو په اړه راپور ورکړل شوی دی چې دوی زده کړو ته خو یا لاسرسی نه لري یا یې هم لاسرسی محدود شوی دی. هغه بېځایه شوي ماشومان چې د زده کړو ته د رسېدو له پلوه په ستونزمنو سیمو کې ښوونځیو ته ځي، د ښوونځیو له تړل کېدو څخه را په دېخوا یوازې ۶٪ یې د لرې واټن یا انټرنېټ پر مټ د ښوونځي نصاب تعقیب کړی دی[٤٧]. هغه معلولې انجونې چې وبا له خپرېدو مخکې یې زده کړو ته محدود لاسرسی درلود تر ډېره بریده هېرې شوې او ځینې وختونه هم د لرې واټن څخه د زده کړو څخه هم بې برخې

[46]UNICEF and International Rescue Committee (2020). COVID-19 - GBV Risks to Adolescent Girls and Interventions to Protect and Empower them.
[47]Afghanistan Inter-Cluster Coordination Team (2020). Whole of Afghanistan and Hard to Reach Assessments - Preliminary Findings Presentation on 15 September 2020.

شوې دي [۴۸]، او همدارنګه د بیاځلي پرانیستلو او کمولو د پلانونو په ترڅ کې هم د هېرولو د خطر سره مخامخ شوې دي.

په داسې حال کې چې کورنۍ لا له وړاندې په بېوزلۍ کې ژوند کوي، ډېرى داخلي بېځایه شوي وګړي (IDPs) یا بېرته راستنېدونکي کډوال د نوي بحران د شرایطو پر وړاندې ډېر کم توان او وړتیا لري. دغه خلک به د ماشومانو د کار یا هم ماشومانو د ازدواج له لارې د خپلو مالي ستونزو د حل په موخه تر زیات فشار لاندې وي. هغه ښځې او انجونې چې کافي خواړو او روغتیایي آسانتیاوو ته لاسرسی نه لري ښایي په ښوونځیو کې د خواړو او ټولنیز روان پروګرامونو په څېر د وړاندې کېدونکو خدمتونو په برخه کې د اړتیا وړ ملاتړ ته د نه لاسرسي له امله تر ټولو د ډېر زیان سره مخامخ شي. نوموړې وبا به د بېوزلو کورنیو د ستونزو د دوام، نابرابریو د لا زیاتوالي، ټولنیز او اقتصادي مقاومت د له منځه وړلو ترڅنګ په محلي او ملي کچه د پرمختګ او سولې د مخنیوي باعث شي.

د کوېډ-۱۹ وبا په راڅرګندېدو سره په سلګونه زره افغان کورنۍ له ګاونډیو هېوادونو څخه بېرته خپل هېواد افغانستان ته راستنې شوې دي او د ښوونځیو اوسنۍ سیستم یې د ډېر فشار لاندې راوستلی دی [۴۹]. نوموړې کورنۍ به ښایي د ښوونې او روزنې پر وړاندې د ځانګړیو ننګوونکو خنډونو سره مخامخ شي، په خاصه توګه، که چېرې دوی د هېواد هغو کلیوالي او لرو پرتو سیمو ته راستنېږي چې د دوامدارې جګړې له کبله آغېزمنې شوې وي او لومړنیو خدمتونو ته لاسرسی نه لري.

## د انجونو د زده کړو په هکله د مراقبت او آغېزې زیاتېدونکی بار

له وخت څخه په ګټې اخیستنې سره د کوېډ-۱۹ وبا څخه وړاندې د ښځو په چارو کې ملګرو ملتونو دفتر لخوا د یوې ترسره شوې سروې په ترڅ کې تصدیق کړې ده چې مېرمنې په افغانستان کې ډېرى کارونه له کومې اجورې پرته او کورني کارونه ترسره کوي. ښځې همدارنګه د سړیو د ۲.۳ ساعتونو په پرتله په اوسط ډول خپل ۴.۶ ساعتونه د ماشومانو په مراقبت تېروي؛ د سړیو د ۱.۳ ساعتونو په پرتله ښځې ۳.۴ ساعتونه د نورو په خدمتونو کې تیروي؛ د سړیو د ۰.۴ ساعتونو په پرتله ښځې ۳.۶ ساعتونه د خواړو په چمتو کولو تېروي؛ او د سړیو د ۱.۶ ساعتونو په پرتله ښځې خپل ۷.۳ ساعتونه د پاک کارۍ په کارونو تېروي. په عمومي ډول ښځې د نارینه وو د ۵.۶ ساعتونو په پرتله په اوسط ډول هره ورځ خپل ۱۸.۷ ساعتونه له اجورې پرته د مراقبت او کورنیو کارونو باندې تېروي [۵۰].

څرنګه چې د جنډر په ۴ شمېره پوهاوي یا خبرتیا کې د ښځو د مراقبت اړوند فشار او له اجورې پرته کورنیو کارونو [۵۱] په برخه کې د کوېډ-۱۹ وبا د اغېزې یادونه وشوه چې په افغانستان کې قرنطین او ټولنیز واټن هم بیا پر خپل وار سره لا له وړاندې د سخت حالت سره مخامخ کړې دي، په غېرې متناسب ډول له اجورې پرته مراقبت او کورنیو کارونو د مسوولیتونو فشار هم تجربه کوي. د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر لخوا د راتلونکې ترسره کېدونکې څېړنې له مخې به په ترتیب سره د نارینه وو د ۷۵٪ او ۶۲٪ په پرتله له اجورې پرته د ښځو د مراقبت کارونه تر ۸۳٪ پورې، له اجورې پرته کورني کارونه تر ۸۰٪ پورې ورسیږي [۵۲]. د مجردو، کونډو او طلاقو شویو مېرمنو په ګډون به ښځینه مجردې مېندې د نورو کورنیو کارونو او مراقبت په درلودو سره د لا ډېر فشار مسوولیت پر غاړه ولري [۵۳].

تر ډېره بریده له انجونو ټمه کیږي چې په کورونو کې د کورنیو کارونو او مراقبت مسوولیت پر غاړه واخلي چې د دې کار مېزان د خپرېدونکې کوېډ-۱۹ وبا په جریان کې لوړ شوی دی – او ښوونځیو په تړل کېدو سره د انجونو لخوا د دغه کار د ترسره کولو کچه نوره هم لوړه شوې ده چې دا په خپل وار سره د دوی په راتلونکې منفي اغېز کوي. د مراقبت زیاتېدونکی فشار د ښځینه زده کوونکو د زده کړې د وخت مخنیوی کوي چې له امله یې زده کړې له لاسه ورکوي او ښوونځیو ته د دوی بېرته راګرځېدل تر خپلې سیورې لاندې راولي.

## د مېرمنو او انجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي زیاتېدونکي خطرونه، استثمار او د ماشومانو وادونه

د ښوونځیو پر پرېښودو سربېره د ښوونې او روزنې ټکنې بهیر هم انجونې او ځوانې مېرمنې د زیات شمېر ناوړه ګټې اخیستنې د زیاتېدونکي خطر سره مخامخ کړې دي لکه د:

---

[48] Human Rights Watch (2020). "Disability Is Not Weakness" - Discrimination and Barriers Facing Women and Girls with Disabilities in Afghanistan.
[49] IOM (2020). Return of Undocumented Afghans – Weekly Situation Report – 23-29 August 2020.
[50] UN Women (2020). The Impact of COVID-19 on Unpaid Care and Domestic Work in Afghanistan: Insights from the Afghanistan Time Use Survey.
[51] UN Women (2020). Gender Alert on COVID-19 in Afghanistan | Issue IV: The Impact of COVID-19 on Women's Burden of Care and Unpaid Domestic Labor.
[52] UN Women (to be published). Preliminary findings: Gender-differentiated consequences of COVID-19 on women's and men's economic empowerment in Afghanistan.
[53] UN Women (2020). Unlocking the lockdown: The gendered effects of COVID-19 on achieving the SDGS in Asia and the Pacific.

د ماشومانو واده، استثمار، کارګر ماشومان، له وخته مخکې حمل اخیستنه، او جنډر له مخې تاوتریخوالی. د ښوونځیو تړل کېدل، د ښووځي لخوا د خوندي چاپېریال نشتوالی، په کور کې د قرنطین مودې تېرول او کوېډ-۱۹ وبا د کمولو تدابیرو د ماشومانو معمول مختل کړی او پر میندو او پلرونو او پالونکو یې نوي فشارونه اچولي دي چې دا په خپل وار سره د هیواد په کچه د کورني تاوتریخوالي د شدت او تکرار سره مرسته کوي[54] . د ښوونځیو تړل کېدل د هغه خوندي چاپېریال د له لاسه ورکولو باعث کېږي، دا هغه چاپېریال دی چې په هغې کې انجونې د ناوړه ګټې اخیستنې او تاوتریخوالي له تجربه کولو، او لویانو لپاره د ناوړه ګټې اخیستنې او د دوی په ژوندانه کې د مداخلې د علایمو د تشخیص پرته د هوساینې ساه اخیستلی شي [55].

کوېډ-۱۹ وبا له امله د ښوونځیو تړل کېدل او ناوړه ټولنیز اقتصادي اغېز د دې لامل شوی چې د ماشومانو د وادونو په څېر د منفي میکانیزمونو پر مبارزه تکیه کول د خطر سره مخامخ کړي. د ډېرو کورنیو لخوا د معیشت د وسیلو د له لاسه ورکولو له امله انجونې په زیاتېدونکي ډول د داسې یو خطر سره مخ دي چې په دایمي ډول یې له ښوونځي بې برخې او له وخته مخکې وادونو ته اړ ایستلی شي. د یادونې وړ ده چې د کوېډ-۱۹ وبا د لومړیو اونیو/میاشتو په ترځ کې د ماشومانو د وادونو د ډېروالي په هکله په مستند ډول راپور ورکړل شوی دی[56] . همدارنګه له ښوونځي بهر ماشومان هم د ناوړه ګټې اخیستنې، استثمار او وسلوالو ځواکونو او ډلو لخوا د استخدام آسانه اهداف ګڼل کېږي او د دې سبب کېږي چې د جګړو لړزېدونکي شرایط تغذیه او د پرمختګ پر وړاندې خنډ رامنځته کړي.

ښوونځي د ماشومانو لپاره داسې خوندي فضا رامنځته کوي چې په هغې کې ماشومان د ستونزو او تاوتریخوالي څخه خوندي کېدای شي. د ښوونځیو د بېرته پرانیستلو پرمهال د دوی لپاره باید په هراړخیز ډول د عامه روغتیا او خوندیتوب مسایل تشریح کړل شي، ترڅو د کوېډ-۱۹ وبا مخه ډب او هغې پرو وړاندې غبرګون ښکاره کړي، خو د دې ترڅنګ باید په ښوونځیو او ښوونځیو په شاوخوا کې د زده کوونکو خوندیتوب باوري کړل شي. همدارنګه د کوېډ-۱۹ وبا د مخنیوي په موخه باید د خوندیتوب په اقداماتو کې د لاس مینځلو د آسانتیاوو، ټولنیز واټن د رعایت او ښوونکیو او کارکوونکیو د خوندیتوب د تدابیرو په څېر لازم اقدامات شامل وي، خو د دې ترڅنګ باید ښوونځي ته په خوندي ډول د تګ راتګ د څرنګوالي، په ښوونځیو او ښوونځیو په شاوخوا کې د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي څخه د خوندیتوب او روغتیایي خدمتونو د نشتوالي او انجونو د ټولنیز خوندیتوب په څېر باید د زده کوونکو سره د خوندیتوب اړوند نورو مسایلو په برخه کې هم مرسته وشي.

## د انجونو پر روغتیا او خوندیتوب د ښوونځیو د تړلو اغېزې

د زده کړو د له لاسه ورکولو سربېره، د ښوونځیو تړل کېدل هم اړینو خدمتونو او ټولنیز خوندیتوب مېکانیزمونو ته د نه لاسرسي له امله د انجونو روغتیا او خوندیتوب اغېزمنوي. یو شمېر زده کوونکي د خپلو ښوونځیو له لارې د خواړو او روغتیایي پروګرامونو څخه ګټه پورته کوي. په هغو ټولنو کې هم دغو پروګرامونو ته د لاسرسي نشتوالی مستقیماً د لوږې پر لوړوالي او خواړو پر کموالي اغېز کوي چې د کوېډ-۱۹ وبا له امله د ټولنیز اقتصادي وضعیت سره مبارزه کوي. باید وویل شي چې د ښوونځیو تړل د ښوونځي عمر لرونکې انجونې د اوسپنې او فولیک اسیډ لرونکو درملو ته د لاسرسي څخه بې برخې کوي چې په یو شمېر ښوونځیو کې انجونو ته ورکول کېږي او دا کار د دوی روغتیا نوره هم د خطر سره مخامخ او په احتمالي ډول د کمخونۍ کچه یې نوره هم لوړوي. ښوونځي د روغتیایي او ټولنیز رواني د خدمتونو د تأمین په برخه کې لومړنۍ مرجع ګڼل کېږي او د ښوونځیو په تړل کېدو سره دغو خدمتونو ته لاسرسی قطع شوی دی.

## له ښوونځیو څخه د ښځو او انجونو د خارجېدو ډېرېدونکي خطرونه

د ټولو هغو ماشومانو شمېر چې د ښوونځیو له تړل کېدو وروسته ښوونې او روزنې ته بېرته نه ستنیږي ممکن ډېر لوړ وي. همدارنګه د کوېډ-۱۹ خپرېدونکې وبا هم په خپل وار سره یو شمېر هغه لاسته راوړنې د خطر سره مخامخ کړې دي چې د طالبانو د رژیم په نسکورېدو سره د ۲۰۰۱ کال څخه را په دېخوا د مېرمنو او انجونو په تعلیمي برخه کې ترلاسه شوې وې. همدارنګه د کوېډ-۱۹ وبا د خطرونو له کبله د نورو خنډونو د رامنځ ته کېدو ترڅنګ د هغو خطرونو په هکله د زده کوونکیو، میندو او پلرونو د تشویش باعث هم کېږي چې ټولګیو ته د ماشومانو د ډېروالي سره یو ځای وي، د واټن د رعایت هیڅ ظرفیت شتون نه لري، ټولګي ډېری وخت

[54]UN Women (2020). Gender Alert on COVID-19 in Afghanistan | Issue II: Ensuring Access to Services for Survivors of Violence Against Women and Girls.
[55]UNICEF and UNFPA (2020). Covid-19 and young girls vulnerability to Child marriage and teenage pregnancies in Afghanistan.
[56]UN Women, UNICEF and UNFPA (2020). Gender Alert on COVID-19 in Afghanistan | Issue XIII: The impact of COVID-19 on Girls, Adolescent Girls and Young Women.

ساړه، لانده او د هېواد په سخت ژمي کې د هوا د بدلون د نیمګړیو امکاناتو ترڅنګ د حفظ الصحې او څښاک د پاکو اوبو په برخه کې هېڅ او یا هم نیمګړي امکانات لري.

د کوېډ-۱۹ خپرېدونکې وبا ممکن ډېرې ښځې او انجونې د تل لپاره د ښوونې او روزنې له بهیر څخه خارجې کړي. د کوېډ-۱۹ وبا له امله د ښوونځیو په تړل کېدو سره د ښځو او انجونو د مراقبت مسوولیتونه ډېر شوي او د بېوزلۍ او بېکارۍ د کچې زیاتېدل به د ښځو او انجونو د زده کړو دوام نور هم ستونزمن کړي. نوموړي عوامل د جنډر پر وړاندې د هغو تبعیضي نورمونو، دوامداري ناامنۍ، او ماشومانو د ودونو په څېر د ناوړه ګټې اخیستنې سره د مضرو وسیلو له لارې یو ځای کیږي چې له وړاندې په ټولنه کې موجود وو. د دې په پایله کې به ډېرې انجونې ښوونې او روزنې ته د لاسرسي توان ونه لري او یا به هم د زده کړو له بشپړولو مخکې د ښوونځي څخه لاس په سر کیږي.

د دې احتمال هم شته چې د عاید د لاسه ورکول به د میندو او پلرونو لخوا د مېرمنو او انجونو د ښوونې او روزنې د لګښتونو د ورکړې توان هم اغېزمن کړي. هغه کورنۍ به د خپلو لوڼو په نسبت د زامنو ښوونې او روزنې دوام ته لومړیتوب ورکړي چې د ټولو ماشومانو د زده کړو لګښتونه نشي ورکولی، چې دلیل یې هم تبعیضي انګېرنې او هغه عملي ملاحظات دي چې د تمې سره سم زامن د خپلو میندو او پلرونو سره یو ځای ژوند کوي او د هغوی مالي ملاتړ کوي، خو د لوڼو په هکله بیا د هغوی د واده کولو تمه کیږي چې ګواکې ټول کار او شتمني به بیا د خپل مېړه د کورنۍ لپاره ځانګړې کوي. د اوږدې مودې لپاره له ښوونځي غېرې حاضري، د ګڼو زده کوونکو او کمو سرچینو لرونکو ښوونځیو کې د مخکینو زده کړو د ضعیف کیفیت له کبله د مطالعې ضعیف عادتونه، د انجونو د ګرځېدو پر آزادیو محدودیتونه، په ځانګړي ډول د عمر په زیاتېدو سره[57]، او کتابونو، درسي موادو او انټرنېټ ته د لاسرسي نشتوالی چې ځاني مطالعه آسانولی شي په ډېر احتمال سره ښوونې او روزنې ته د زده کوونکو په ځانګړي ډول د انجونو او ښځو د بېرته نه ورګرځېدو سبب کیږي. د هلمند، کندهار، پکتیکا، اروزګان، او وردګو ولایتونو په څېر، ښایي په یو شمېر هغو ولایتونو کې انجونې ښوونځیو ته د بېرته ورګرځېدو په برخه کې د ځانګړي خطر سره مخ وي چې د خپرېدونکې وبا څخه مخکې یې په ښوونځیو کې د انجونو د شمولیت کچه د پام وړ ټیټه وه.

## د لرې واټن (انټرنېټ له لارې) د زده کړې نشتوالی او په زده کړو کې ځنډ

د اوږدې مودې لپاره د ښوونځیو تړل کېدل او د لرې واټن څخه د زده کړو د کافي امکاناتو نشتوالي د ماشومانو زده کړې، په خاصه توګه د افغانستان د هغو ماشومانو زده کړې سختې زیانمنې کړې دي چې له پامه غورځول شوي وو. د لاسرسي وړ ښوونیزو موادو نشتوالی او یوازې د ۱۴٪ افغانانو لخوا د انټرنېټ کارونې ته په پام سره[58] انټرنېټ ته محدود لاسرسي د لرې واټن څخه د زده کړې فرصتونه محدود کړي دي. د کم سواد په درلودو سره ډېرو میندې او پلرونو د دې توان نه درلودو چې په کور کې د مطالعې او زده کړې د دوام په موخه د خپلو ماشومانو لپاره د اکاډمیک ملاتړ زمینه برابره کړي. په هرات، بادغېس او غور ولایتونو کې یوه ترسره شوې ارزونه څرګندوي چې ۵۳٪ کورنۍ د خپلو ماشومانو لپاره په کورنو کې د زده کړې امکانات نه وو برابر کړي او ۳۰.۸٪ مراقبت کوونکو ویلي دي چې دوی د خپلو ماشومانو لپاره د کورنۍ زده کړې او ښوونې او روزنې په برخه کې د هېڅ ډول ملاتړ په تأمینولو باندې قادر نه وو[59] . همدارنګه د ۷۶٪ ځواب ویوونکو په وئیلي دي چې دوی د ښوونځي اړوند د زده کړې درسي موادو ته اړتیا درلوده.

انجونو بیا ډېر کم د دې توان درلود چې د لرې واټن څخه زده کړې وکړي، ځکه چې د هلکانو په نسبت دوی د کورنیو کارونو ترڅنګ د خپلو کوچینو خویندو او وروڼو مراقبت هم پر غاړه درلود. همدارنګه د ټېکنالوژیکي وسیلو او انټرنېټ څخه د استفادې په برخه کې د انجونو او ښځو پر وړاندې ځینې وختونه مقاومت هم موجود وي او د دې کار د ترسره کولو په صورت کې ښايي د تاوتریخوالي سره مخ شي، او دلیل یې هم دا دی چې دوی ښايي د دغو وسیلو له لارې د سړیو یا هلکانو سره اړیکې ټینګې کړي[60]. دغه عوامل تر ډېره بریده د دې باعث کیږي چې د لرې واټن څخه د زده کړې پرمهال انجونې له زده کړو څخه وروسته پاتې شي، چې دا کار په راتلونکې کې دواړه د دوی علمي لاسته راوړنه او هم ښوونځي ته د بېرته ورستنېدل د خطر سره مخامخ کوي. د رخصتیو په موده کې د زده کړو د له لاسه وتلي وخت د ترلاسه کولو په موخه د انجونو او نورو ماشومانو لپاره باید د اړتیا سره سم جبرانوونکې زده کړې وړاندې کړل شي.

---

[57]Human Rights Watch (2017). "I Won't Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick" - Girls' Access to Education in Afghanistan.
[58]World Bank (2017). Individuals using the Internet (% of population) – Afghanistan, at: https://data.worldbank.org/indicator/IT.NET.USER.ZS?locations=AF
[59]World Vision Afghanistan (2020). The Assessment of Socio-Economic Impact of COVID-19 on the Most Vulnerable Families of Afghanistan.
[60]Human Rights Watch (2012). "I Had To Run Away" The Imprisonment of Women and Girls for "Moral Crimes" in Afghanistan.

## د مینځلو او حفظ الصحي د امکاناتو نشتوالی د کوېډ-۱۹ وبا د مخنیوي پر وړاندې خنډ دی

دا چې د اوبو نشتوالی او حفظ الصحې د لاسرسي وړ آسانتیاوې لا له وړاندې یو له هغو عمده عواملو څخه وو چې له امله یې ډېرو انجونو او ځوانو مېرمنو نه شول کولای چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، بیا هم دا یوه له اساسي موضوعاتو څخه ده چې د کوېډ-۱۹ وبا د خپرېدو د مخنیوي په موخه هڅې زیانمنوي. په ۲۰۱۷ کال کې یوازې ۶۰٪ دولتي ښوونځیو د تشنابونو آسانتیاوې درلودې [61]. اوسمهال، د روانو اوبو د نشتوالي په ګډون ډېری ښوونځي د مینځلو او حفظ الصحې د امکاناتو د نشتوالي له کبله د ماشومانو د خوندي ساتلو په موخه د حداقل اړتیاوو پوره کولو توان او وړتیا نه لري [62]. تر ۳۰٪ پورې افغانان د څښاک پاکې اوبه نه لري او یو شمېر یې بیا هېڅ رواني اوبه نه لري [63]. دا د سالمې حفظ الصحې د عملي کولو پر وړاندې یو لوی خنډ او په اغېزمنه توګه د کوېډ-۱۹ وبا په مخنیوي کې ګټوره وسیله ګڼل کیږي.

په ښوونځیو کې د مینځلو امکاناتو د نشتوالي په ګډون، د کوېډ-۱۹ وبا د پاتې کېدو او خپرېدو ویره ښایي ښوونځیو ته د ماشومانو په ځانګړې ډول د انجونو او ځوانو مېرمنو د راستنیدو مخنیوی وکړي. د کوېډ-۱۹ وبا د خپرېدو د مخنیوي په موخه د حفظ الصحې اړوند تدابیرو لوړول به مهم وي او هم به د ښوونځي په زېربناوو کې د ښځو او انجونو لپاره د حفظ الصحې د کافي امکاناتو د دوامدار نشتوالي د ستونزې حل په موخه فرصت برابر کړي.

## د کوېډ-۱۹ وبا د اقتصادي اغیزو له کبله د ښوونې او روزنې د بودجې د کموالي خطر

د کوېډ-۱۹ وبا د افغانستان د پوهنې د سیستم پر وړاندې جدي سیستماتیک خطرونه رامنځته او د انجونو ښوونې او روزنې ته د مرستندویانو لخوا توجه له پامه غورځوي. د روغتیایي بحران اقتصادي پایلې د یو شمېر هغو هېوادونو په ګډون چې د نړیوالو پرمختیایي همکاریو په برخه کې مخکښ هېوادونه ګڼل کیږي په ټوله نړۍ کې احساسیږي. افغانستان تقریباً د مرستندویانو په همکارۍ پورې تړلی یو هېواد دی چې په دې کې د خپل د ښوونیز سیستم بودجوي تأمین او ښوونیز سیستم په چوکاټ کې د ښوونې او روزنې او جنډر د برابرۍ په برخه کې د انجونو څخه د ملاتړ هغه فعالیتونه شاملیږي چې معمولاً د مرستندویانو لخوا تمویل او تأمینیږي. څرنګه چې پرمختیایي مرستې تر فشار لاندې راغلې دي، دا کولای شي چې د ښوونې او روزنې ناکافي تمویل د لا ډېر خطر سره مخامخ کړي، او تر ډېره بریده هغه ننګوونې نورې هم پراخې کړي چې افغان ښوونیز سیستم لا له وړاندې ورسره مخ دی او هم ممکن د هغو بسپنو او تمرکز د قطع کېدو سبب شي چې د پرمختګ لپاره حیاتي ګڼل کیږي او د انجونو د ښوونې او روزنې په پرمختګ کې ترلاسه شوې دي. په نړیواله کچه داسې اټکل کیږي چې د کوېډ-۱۹ وبا بحران به د ښوونې او روزنې د تمویل تشه تر یو پر دریو برخې پورې لوړه کړي [64].

## سپارښتنې:

د کوېډ-۱۹ پر وړاندې غبرګون او ژغورنې ټول پلانونه او ښوونې او روزنې ته د لاسرسي پر وړاندې د جنډر پر اساس د خنډونو له منځه وړل باید په پام کې ونیول شي. په داسې حال کې چې دولت د ښوونځیو د بیاځلې پیل پر پلان کار کوی، ښوونې او روزنې ته د لاسرسي او امکاناتو د برابرولو په برخه کې د جنډر د برابرۍ د لوړولو فرصت هم شتون لري. نوموړی فرصت د لاندې مواردو څخه په ګټې اخیستنې سره تحقق پیدا کولای شي: (۱) د دې باوري کول چې د جنډر تساوی د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د غبرګون په ټولو ستراتیژیو کې د یوې بنسټیزې برخې په توګه شاملیږي؛ (۲) د دې باوري کول چې د جنډر د تساوي په پلان جوړونه، تمویل او پرمختیایي زیربناوو په وړاندې کولو کې له کلیدي ملاحظاتو څخه ګڼل کیږي او همدارنګه د دې باوري کول چې د تشنابونو، روانو اوبو، ښوونځیو د انګړ د دېوالونو او د لاسرسي وړ هغو ودانیو په څېر د اساسي زېربناوو لومړیتوب ورکول کیږي چې د انجونو او ښځو سره د زده کړې په دوام کې مرسته کولای شي؛ (۳) د دې باوري کول چې تعلیمي نصاب او ښوونکي د جنډر برابري او د ښځو حقونه د تعلیمي لومړیتوب په توګه په پام کې نیسي؛ او (۴) د ۳۰۰۰۰ ښځینه ښوونکیو د ګومارنې د مخکیني پلان په ګډون د دولت د مخکینو هڅو سره په مطابقت کې د لا ډېرو ښځینه ښوونکو استخدام باوري کوي [65]. د افغانستان د دریېم دوره یي راپور اړوند پایلو ته په پام سره د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو په هکله د ۲۰۲۰ کال لپاره د کمېټې د سپارښتنو سره سم دولت باید: [66]

[61] Human Rights Watch (2017). Girls in Afghanistan—and Everywhere Else—Need Toilets.
[62] UNOCHA (2020). Afghanistan: COVID-19 Multi-Sectoral Response Operational Situation Report - 26 August 2020.
[63] Human Rights Watch (2017). "I Won't Be a Doctor, and One Day You'll Be Sick" - Girls' Access to Education in Afghanistan.
[64] UNESCO (forthcoming): "The impact of Covid-19 on the cost of achieving SDG 4", in UN (2020). Policy brief – Education during COVID-19 and beyond.
[65] Committee on the Elimination of Discrimination against Women (2020). Concluding observations on the third periodic report of Afghanistan. CEDAW/C/AFG/CO/3
[66] Ibid.

۱. باوري کړي چې د وبا پر وړاندې د چمتووالي او غبرګون په پلانونو کې په ملي کچه د هراړخیزې زده کړې په موخه خوندي لاسرسي او جنډر پر بنسټ خنډونو لرې کولو او ښځو او انجونو د ښوونې او روزنې د لاسرسي اړوند اړتیاوو ته لومړیتوب ورکول کیږي چې په دې کې هغه ښځې او انجونې هم شاملیږي چې تر نورو ډیرې له پامه غورځول شوي دي.

۲. د ښځو او سړیو لپاره د واده عمر حداقل د ۱۸ کلونو د تعینولو په ګډون د جنسیت پر بربنسټ د تبعیض وړ ټولو احکام د حذف په موخه په قوانینو کې اصلاحات رامنځته کول.

۳. د انجونو او هلکانو لپاره ښوونې او روزنې ته د برابر لاسرسي او د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره خدمتونو ته د لاسرسي د باوري کولو په ګډون د جنډر د تساوي د ښه والي په منظور د نوي قانوني مسودې تدوین.

٤. په ملي تعلیمي نصاب کې د جنډر د برابرۍ او ښځو د حقونو اړوند مطالبو د ځای پر ځای کولو څخه ملاتړ او حمایت کول.

٥. د کوېډ-۱۹ وبا د کچې د ټیټوالي د اقداماتو او د ښځو او انجونو د زده کړو د اهمیت په هکله د اړیکو د ټینګولو په موخه په خوندي ډول د ښوونځیو په بیاځلي پرانیستلو او ښوونځیو ته د ښځو او انجونو د بېرته ورګرځېدو په برخه کې د ټولو ټولنو ښکېلول او په انفرادي ډول د هغو انجونو او ښځو تعقیبول چې ښوونځیو یا ښوونیزو پروګرامونو ته بېرته نه ورستنیږي.

٦. د ماشومانو د خوښې وړ مالوماتو په ګډون، د کوېډ-۱۹ وبا د کچې کمولو پر وړاندې له اغیزمنو اقداماتو څخه ډاډ ترلاسه کولو په موخه د مالوماتو، روزنیزو پروګرامونو او مطالبو تأمینول، چې لاندې موارد هم پکې شامل وي:

- أ. له دې څخه ډاډ ترلاسه کول چې د ښوونځیو او ټولنې پر بنسټ د زده کړو په ټولګیو کې د ټولو ماشومانو لپاره د ماسکونو، حفظ الصحې د کټونو، ښځاک پاکو اوبو ته د لاسرسي (اوبو د زېرمو د توزیع او کلورینو په وسیله تصفیه شویو اوبو له لارې، که چېرې د پلې کېدا او لاسرسي وړ وي)، لاسونو د عفوني ضد مایع او باکټریا وژونکي صابون په ګډون د حداقل خوندیتوب اړوند اقداماتو پروګرام پلې کیږي.
- ب. د دې باوري کول چې ښوونځي او ټولنې پر بنسټ د زده کړو ټولګي (CBE) د افرادو پر وړاندې د تبعیض پرته د زده کوونکي یا ښوونکي لخوا د کوېډ-۱۹ وبا د اعراضو او علایمو د لیدو په صورت کې واضح پروتوکولونه/ لارښوونې لري (د قرنطین لنډمهاله محل، د پېښو ثبت، روغتیایي فعالیتو ته راجع کول او داسې نور)

۷. په خوندي ډول د ښوونځیو بېرته پرانیستلو او دولتي ښوونځیو ته د تلونکو انجونو په ګډون، د انجونو د درسي وخت د جبران سره د مرستې په موخه د دوی له مهارت څخه په استفادې د ټولنې پر بنسټ د زده کړو (CBE) له ماډل (نمونې) څخه ګټه اخیستل او پراخوالی په پام کې نیول.

۸. ډاډ ورکړي چې د ښوونیزو پروګرامونو په ترځ کې د جنډر له پلوه د ښځو او انجونو متفاوتې اړتیاوې په پام کې نیول کیږي چې په دې کې هغه انجونې هم شاملیږي چې تر ټولو ډېرې له پامه غورځول شوې وي.

۹. خوندي او د لاسرسي وړ زېربناوو، جنسیت له پلوه د حفظ الصحې جلا تأسیساتو او په ټولو ښوونځیو کې د ښځاک پاکو اوبو، حفظ الصحې کټونو او عفونت ضد موادو ته د لاسرسي په ګډون د مېنځلو خوندي او مناسبو امکاناتو ته لاسرسی باوري کړي.

۱۰. په ښوونځیو او ښوونځیو په شاوخوا کې، ښوونځي ته پر لار او زده کوونکو په کورونو کې د تاوتریخوالي په ګډون د ښځو او انجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي د ټولو ډولونو د حل په موخه ځواب ویوونکي او مخنیوي پروګرامونه رامنځ ته او پلي کړي.

۱۱. د مالي مرستو او تحصیلي بورسونو په څېر د انګېزو له لارې د ښځو او انجونو له ښوونې او روزنې څخه ملاتړ وکړي.

۱۲. د وظیفوي پرمختګ او معاشونو د لوړوالي او تاوتریخوالي او جنسي ځورونې پر وړاندې د خوندیتوب د باوري کولو په ګډون، د ښځینه ښوونکیو د استخدام او په ښوونځي کې د ساتلو څخه ملاتړ وکړي.

۱۳. په ښوونیز سیستم کې د ټولو معلولو ماشومانو د شاملولو په موخه اقدامات پیاوړي او باوري کړي چې د لرې واټن څخه د زده کړو او د ښوونځیو بېرته پرانیستلو په ګډون، د کوېډ-۱۹ ناروغۍ اړوند ټول اقدامات د معلولیت لرونکو ټولو ماشومانو لپاره د ښوونې او روزنې د بشپړ لاسرسي د باوري کولو په منظور د معقولو لاسرسي وړ امکاناتو تضمین په پام کې ونیسي.

۱٤. د جګړو له امله د اغېزمنو، بېځایه شویو او بېرته راستنېدونکو کډوالو لپاره ښوونې او روزنې ته د دوامدار لاسرسي د تضمین په منظور اقدامات تهیه او رامنځته کړي.

۱٥. ښوونې او روزنې ته د لاسرسي، خوندي خلاصون او په ټولنو او کورنیو کې د ادغام په موخه د ساتنې په بدیلو ځایونو او توقیف خونو کې د موجودو ماشومانو څخه ملاتړ وکړي.